# ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسې حال کې له يوه لوښي څخه لامبل چې دواړه به جنب وو، او کله به چې حېض وم، نو امر به يې راته وکړ چې ځان بسته کړه نو زما سره به نږدې کېده (لوبې به يې کولې) او زه به حاېضه وم،

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايې: ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به په داسې حال کې له يوه لوښي څخه لامبل چې دواړه به جنب وو، او کله به چې حېض وم، نو امر به يې راته وکړ چې ځان بسته کړه نو زما سره به نږدې کېده (لوبې به يې کولې) او زه به حاېضه وم، او کله به چې اعتکاف و نو له - جومات - څخه به يې د وينځلو لپاره سر راوويست، پداسې حال کې چې زه به حاېضه وم.
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

عايشې رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د خپلو ځينو خاصو حالاتو په اړه خبر ورکړی، چې له هغې حالتونو څخه يې ځيني دا دي چې: هغې به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د جنابت په حالت کې له يو لوښي څخه غسل کاوه، او دواړو به ترې اوبه راخېستې. او دا چې کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم د حيض په حالت کې غوښتل ورسره يو ځای شي نو امر به يې ورته وکړ تر څو خپل بدن د نوم له غوټ نه لاندې تر ځنګنونو پورې بسته کړي، نو بيا به يې له جماع پرته مباشرت ورسره کاوه. او دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په جومات کې اعتکاف کاوه، نو خپل سر به يې عايشې رضي الله عنها ته له جومات څخه د وينځلو لپاره راوويست په داسې حال کې چې هغه به په خپل کور کې د حېض په حالت کې وه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3476